


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

نــاول_ خـــــوږ انــتــظــار.

لــيــكــوالــه_ سـحــر ســادات.

ژباړونكي_ دسكوت هېنداې ټيم.

ketabton.com - The Digital Library

**《 بِسْمِ اللَّـهِ الرَّحْمَـٰنِ الرَّحِيمِ 》**

# پيل

ريښتنې مينه تل بايد په ياد ولرى.

حتا هغه وخت چې ونه شي کولاي، په څنګ کې يې اوسې.

.... صفا ....

ketabton.com - The Digital Library

زما لپاره یې هېڅ فرق نه درلوده، چې ژمی دی، اوړی دی، منی دی او که پسرلی دی.
زه به صرف د خپلې سرګرمۍ او د خپلو دوستانو سره په لوبو بوخته وم.
مور مې راسره ډېره مینه درلوده، ځکه یواځینی لور یې وم، پلار مې هم همداسې، هر څه به چې ما غوښتل دوي به راته ترسره کول.

زه ۱۳ کلنه وم. مور مې د کور ټول کارونه په یوازې ځان مخته وړل.
زه صرف په خپلو لوبو بوخته وم. ډېر ښه ملګري مې درلودل، یو له بهترینو ملګرو مې سبحان و.
زما او د سبحان اړیکه له معمولي ملګرو څخه ډېره نیژدې او خوږه وه.
سبحان یواځینی کس وو، چې په ډاډه زړه مې

ketabton.com - The Digital Library

کولاي شول، د خپل ژوند ټول موضوعات ورسره شریک کړم.

مونږ په یو کلي کې ژوند کاوه. د تل په څېر د مازدیګر له لمانځه وروسته، ټولې ملګرې د اوبو چینې ته تلو، او اوبه به مو راوړلې.
زمونږ په کلي کې ځاه یا کوم بل څه نه وو، ترڅو وکولاي شو اوبه ترې راوړو.
یوائېنۍ ونډه چې ما د کور په کارونو کې اخېسته همدا اوبه راوړل وو. که څه هم پلار مې سبحان ته ویلي وو، ترڅو هره ورځ دې مونږ ته اوبه راوړې، خو به زه تلم ځکه خوښېدل مې ډېر وخت د سبحان سره یوځاي اوسم.

(ګلثوم د صفا مور)

ketabton.com - The Digital Library

ګلثوم : لورې ته چېرته يې؟ بايد لاړه شئ بازار ته، ترڅو د شپې لپاره سودا راوړئ. ورونه دې نشته پلار دې ويل نن دې صفا راشې بازار ته.

صفا : راغلم مورې، سمده ځم خو سبحان هم بايد زما سره لاړ شي.

ګلثوم: سمده لورې، صرف ژر لاړه شه چې ديګی ناوخته کېږي، بيا به دې پلار په قهر وي.

...
له سبحان سره يوځای لاړو د پلار رستورانت ته. خو نه زما پلار وو، او نه هم ماما مې. د رستورانت مخې ته ډېر کسان جمعه شوي و، کله چې نيژدې ورغلو يو سړی پروت و، ټول بدن يې له وينو سره سم وو.

ketabton.com - The Digital Library

پلار او ماما مې د هغه وینو کې لت پت جسد سره ناست وو. همدا چې ومې ویل : پلاره څه شوي دي؟!
پلار مې په ډکو سترګو یې وویل : لورې ته لاړه شه کورته، وروسته زه درځم او هر څه درته وایم.

هماغه لحظه کې پولیس راغلل. زما پلار او ماما یې له ځانه سره بوتلل.
که څه هم ډېر مې وژړل خو هېچا زما غږ نه اورېده، حتا دومره یې هم ونه ویل چې پلار مې څه کړي، او ولې یې هغوي بوتلل.
حالت مې ډېر بد وو. د سبحان په مرستې کور ته راغلم، خو هېڅ  پوهه نشوم چې زه ټوله لار څنګه راغلې یم.

ketabton.com - The Digital Library

همدا چې کور ته ورسېدم، مور مې زما له اوښکلنو سترګو څخه پوهه شوه، چې هرو مرو کوم څه شوي.

ګلثوم : څه شوي د مور ګرانې؟ دا رنګ دې ولې داسي دی...؟!

هرڅه چې ما په خپلو سترګو لیدلي وو، ټول مې مور ته  وویل. د مور حالت مې ډېر خراب شو.

ګلثوم : اې! زما خدایه دا څه ورځ وه چې زمونږ په سر نازله شوه، تر کله په تمه اوسو تر څو خبر راشي. زما خاوند یې ولې زنداني کړی؟!  په دلیل یې هم نپوهېږم...!!

سبحان : ګلثوم تروري تاسو اندېښنه مه کوئ، زه ځم کورته او پلار ته مې وایم چې لاړ شئ محکمې ته،  بیا به خامخا پوه چې قضیه څه ده،

ketabton.com - The Digital Library

هیله کوم تاسو آرامه اوسئ، له ژړا څخه هېڅ هم نه جوړېږي.

ګلثوم : ژوندی اوسې زویه، اللهﷻ دې له تا څخه راضی شې. که پلار دې په کوم څه پوهه شو، هیله کوم ژر تر ژره یې مونږ ته ووایه.

سبحان : په سترګو ترور جانې.

د سبحان له تلو وروسته، صرف زه، مورمې او دوه وارِه ورونه مې، په دې لویه حویلې که پاتي شو. هوا لږ، لږ په تیاره کېدو شوه، ډېره وېریدم ځکه هېڅکله مو هم د پلار پرته شپه نه وه تېره کړې. لحظه په لحظه زما وېره لوړېده، ټوله شپه مې ډېرې وېرې او اندېښنې په وجه خوب زما سترګو ته رانغی. تر ټولو ډېره وېره مې دا وه که خدای مه کړه زما پلار آزاد نشې څه؟ که بې سرو

ketabton.com - The Digital Library

پښو پاتې شو څه؟ که د نن شپې پشان، د ژوند ټولې شپې له وېرې څخه وېده نشم څه؟! اوف خدایا...!! دې فکرونو زه لیونۍ کولم.

خدایا دا د ژوند ستونزې هم خلاصی نه لرې. لومړیو کې غربت وو، لږ وخت کېږي پلار مې یو سم کار پېدا کړی و، رستورانت یې جوړ کړی و. زمونږ ژوند ډېر ښه تېرېده، پرته له کوم سر خوږې څخه به مو له خپلې کورنۍ سره ژوند کاوه. خو اوس.... اوس تر ټولو لوی کړښت لرو، دا شپه او دا ډارونکې تیارې هېڅ د خلاصون نوم نه اخلې.

....سبحان ....

کله چې کور ته راغلم، د نن ورځې ټوله کیسه مې پلار ته وکړه. پلار مې وویل : سبا ځم

ketabton.com - The Digital Library

محکمې ته، بیا به پوهه شو چې څه شوي دي.

زما لپاره صفا ډېره اړینه وه، نه مې غوښتل هېڅ وخت نا آرامه اوسې. صفا فکر کاوه چې زه یې یوازې ملګری یم، خو نه پوهېده چې څومره پرې مئین یم.

عشق اگر آن باشد که میگویند
دل های ساده میخواهد

عشق اگر آن باشد کی من دیدم
انسان فوق العاده میخواهد

سنی ندارد عاشقر کردن
فرف ندارد کودکی، پیری

هر وقت زانوی غم بغل کردی
یعنی تو هم با عشق درگیری

ketabton.com - The Digital Library

که څه هم هره ورځ د صفا لیدو ته تلم، خو که یوه لحظه هم ترې لرې وم، ورپسې خفه کېدم. په کوټه کې به یوازې کېناستم، او د هغې په خاطراتو به مې خپل زړه خوشحاله کاوه.
یـوه کتابچه مې درلوده. له کومې ورځې څخه چې ما صفا لیدلې وه، او ملګرې شوې یې وم، همدې کتابچه کې مې لیکل کول. خلاصه هره ورځ به چې له صفا سره وم هغه ورځ به مې لیکله.

همه ای نور ها زیبایی خود شان را در برابر نور...
که تو در زندگی می آوردی از دســـــــت دادن...

زه له صفا څخه څلور کاله مشر وم. د صفا کورنۍ له ماسره ډېره مینه درلوده، پلار یې ډېر

ketabton.com - The Digital Library

مهربانه او زړه سواندی انسان و. نپوهېږم دا ورځ پرې څنګه راغله؟! کنې داسې انسان نه وو چې چاته دې زیان ورسوي. شپه تېره شوه او سهار شو. پلار مې لاړه او دوه ساعته وروسته بېرته راغی.

(امین د سبحان پلار)

امین : زویه لاړم او پوهه شوم چې قضیه څه ده. سردار یو له نیژدې کسان سره، په رستورانت کې په جنګ شوي، وروسته هغه سړی ډېرې بدې خبرې ورته کړې، د صفا پلار هم د چاقو په واسطه هغه کس زخمې کړی. حالت یې هم ډېر خراب دی. رغتون ته لاړم، له ډاکټرانو مې وپوښتل، هغوي وویل: فکر نکوم ښه شی خو دعا وکړئ، او الله ته امید ساتئ.

ketabton.com - The Digital Library

د پلار ټولو خبرو آورېدلو وروسته، لارم د صفا دوي کور ته هر څه چې پلار مې ویلي وو، ورته مې کیسه وکړه. ګلثوم ترور د خوارکۍ حالت ډېر خراب و، له ډېرې ژړا له امله یې سترګې سرې شوې وې. صفا هم ډېره ښه نه وه.

(سردار د صفا پلار)

..... سردار .....

ژوند بلکل د ځرخیدونکي ټال په شان دی. ښکته او پورته ډېرې لري، خو هېڅکله په یو ځای نه دي ولاړ. زه څو ورځې مخکې کوم حالت کې وم، او اوس څه حال کې یم. نپوهېږم ولې مې یو ناڅاپه جنګ وکړ، او هغه منحوسه چاقو مې په لاس کې ونیوله.
هم مې خپل ژوند برباد کړ، او هم دیوې بلې

ketabton.com - The Digital Library

کورنۍ.
نپوهېږم څه حالت کې به وي. ښځه مې قوي او صبرناکه ده، خو ماشومان مې له ماشومتوب په ناز او نزاکت سره لوي شوي. ما خپله هره سختې په ځان منلې، خو هېڅکله مې هم اجازه نه ده ورکړې چې کورنۍ مې بلخصوص ماشومان مې درد او سختې ووېني.
لور مې صفا يوه ډېره سرشاره، مغروره او بې پروا انجلۍ وه. هغه به تل له خپلو ملګرو سره په لوبو بوخته وه، د ژوند مشکلاتو او سختيو په کيسه کې هېڅ نه وه. ورو ورو لويه شوه، خو هېڅ تغيير پکې رانغي، د يو ماشوم په شان زد او زور ويل به يې کول. ويل به يې : هر څه چې غوارم بايد هماغه وشي.
زه هم هغه پلار وم، چې د هغې هره غوښتنه به مې پوره کوله. هغه څه به يې چې له ما غوښتل

ketabton.com - The Digital Library

نه مې شو کولاي رد یې کړم.
خو اوس درې شپې کیږي د زندان له پنجرو شاته ناست یم.
نپوهیږم په کورنۍ مې څنګه وخت تېږوي.
بلخصوص صفا. هغه له یوازیتوب او تیارې څخه ډیره ویریږي.
خداي، خدای مې ویل چې هغه سړی مړ نشی، کنې ټول عمر به مې زندان کې تېر شي. او د یوې مور ښېرا واخلم. څومره سخته ده کنه، چې یوه مور د ځوان زوی درد و غم ووینې.
آه! ژونده زه څه وم، او تا له ماسره څه وکړل؟

.......صفا .......

باور نه کیده زما پلار دومره بد شوی اوسي چې یو چاته ضرر ورسوي. هغه زما د ژوند قهرمان و. هغه زما لپاره یو الهام و. خو اوس هغه یو بل

ketabton.com - The Digital Library

کس وواژه؟ تېره ورځ هغه سړی مړ شو، یعنې زما پلار د یو د مرګ سبب شو؟ له مور سره مې لاړو د هغه جنازې ته.

د هغه کس کورنۍ داسې ژړل او زما پلار ته یې ښېراوې کولې، چې د هغوي هرې جملې سره زه سوځېدم او ایره کېدم.

هغوي هم حق درلوده. ځکه خپل ځوان زوی یې له لاسه ورکړی و.

اوف! خدایا! نپوهېږم چې اوس به څه کېږي، فکر نه کوم چې زما پلار دې ژر راوګرځې کورته. یعنې زه تر کومه دا تورې شپې وزغمم؟ بې له پلاره هغه وېره چې یوه لحظه هم ما نه پرېږدي ویده شم.

بې له پلاره ژوند هېڅ رنګ نه درلوده، ورځې هم د شپې په شان تورې وي.

یوه میاشت زما پلار په زندان کې وو. په دې یوه

ketabton.com - The Digital Library

میاشت کې مونږ یې هیڅ لېدو ته لاړو نه، صرف د سبحان پلار به تلل او زما د پلار احوال به یې اخیسته. او مونږ ته به یې ویل. ما فکر نه کاوه چې زما پلار دې همدې نیژدې وختونو کې کور ته راشی.

شپه شوه. بیا هم د نورو شپو په شان تورې، تیارې او بې نوره.

د شپې 8 بجې وې، دروازه وټکول شوه. ورور مې لاړه او دروازه یې خلاصه کړه، پلار مې وو. خدایا معجزه شوې! یعنی څه؟ فکر مې کاوه خوب وینم، څو ځلې مې سترګې پټې کړې، خو نه دا واقعاً زما پلار و. په تلوار او تېزۍ سره د دروازې خواته لاړم. کلک مې په غېږ کې ونیوه، له ډېرې خوشحالۍ څخه مې په سترګو اوښکې بندې شوې، خو زړه مې نه غوښتل په دې شپه وژاړم.

ketabton.com - The Digital Library

هغه شپه چې مایې د لېدو آمان درلوده، خو اوښکې مې زما په کنټرول کې نه وې.
مور او ورونه مې مونږ ټول د پلار په لېدو ډېر خوشحاله وو. له یوې میاشتې وروسته، بیا ځلې زمونږ په کور کې هماغه پخوانۍ راغله. زمونږ په کور کې د پرون شپې وېره نه وه، په آرمه وېده شوم.
خو یوه پوښتنه زما په ذهن کې ګرځېده، پلار او ماما مې یوځای زندان ته تللي و، ځکه دواړه مجرمان وو. خو پلار مې آزاد شو، خو مامې اوسم په زندان کې دی؟!

...

ډېر وخت تېر شو د پلار د آزادیدو. تل مې غوښتل ورځخه وپوښتم چې څنګه آزاد شو؟
خو وېرېدم هسې نه ناآرامه شی، له سبحان

ketabton.com - The Digital Library

ځخه مې هم څو ځله پوښتنه وکړه، خو هغه هم په هیڅ نه پوهېده. بلاخره یوه شپه مې پریکړه وکړه او له پلار ځخه مې وپوښتل: پلاره! ولې ته بېرته راوګرځېدی کورته، خو مامامې تر اوسه په زندان کې دی؟!

....سردار ....

یوه میاشت تېره شوه خو تر اوسه په زندان کې یم. پرون ورځ د هغه کس کورنۍ راغلې وه کوم چې ما وژلی و، زما او زما د اوښي یې یو څه وغوښتل او زیاته یې کړه، که قبول کړو خپل شکایت به بېرته واخلی. د هغه څه منل راته آسانه نه وو، خو په دوه لارو ې بند پاتې وم، که د هغوي غوښتنه مې نه واي منلې شاید ټول عمر مې په زندان کې تېر کړی واي. د ښځه او بچي به مې چا ساتلي واي؟ زما ځخه بې غیر به یې

ketabton.com - The Digital Library

ښه ژوند کاوه؟ خدایا کاش تا زه بل رقم امتحان کړی واي، د هغه چا پلار چې زه یې د مرګ لامل شوم، له ما څخه یې وغوښتل د وینې په ځای خپله لور د هغه زوی ته ورکړم.
همداسې یې زما د اوښي څخه هم وغوښتل.
ورته یې  وویل : خور دې راکړه.
ځکه هغې لور نه درلوده، ویل یې د خپلې آزادې لپاره دې خور زما زوی ته راکه. خو اوښي مې ونه منله، او وی ویل : سل کاله زندان کې اوسېدل منم، خو نه غوارم زما د غلطې لپاره زما خور وسوځېږي.

خو زه هم نپوهېدم څه وکړم، زما لور صفا تر اوسه د ځوانې عمر ته سمه نه وه رسېدلې، د هغو زوی هم د صفا همزولی و، ښه کورنۍ وه.
ویل یې ستاسو لور ددې لپاره نه غوارو چې ظلم

ketabton.com - The Digital Library

پرې وکړو، تا زمونږ یو زوی واخېسته، زه غواړم
د بل زوی ژوند جوړ کړم.

څو شپې مې دې اړه  سوچ وکړ، خو ددې
موضوع لپاره مې زړه هېڅ نه راضي کېده، د
خپلې آزادۍ لپاره خپله د ګل پشاتنې لور فدا
کړم؟
خو ما د ځان لپاره فکر نه کاوه، اړینه نقطه زما
کورنۍ وه، هغوی زمونږ څخه بې غیر ژوند نشو
کولای ژوند مخته یوسي. زما زامن تر اوسه ډېر
کوچنۍ وو، کار کولو سره عادت نه وو، بل څوک
هم نه وو چې زما د کورنۍ مصارف ورکړي. زه
مجبوره شوم د خپلې لور په ژوند قمار ووهم،
خپله لور مې فدا کړه.

له زندان څخه آزاد شوم.
زما د آزادۍ څخه وروسته، صفا مې خپلې نیا ته

ketabton.com - The Digital Library

ولیږله پاکستان ته، ځکه ډېر وېرېدم چې صفا ته کوم زیان ونه رسوي. هېڅ په تلو نه راضي کېده، ډېره په سختته مې راضي کړه. څلور کاله صفا په پاکستان کې وه، وروسته له څلورو کلنو بېرته راغله، ځکه د نیا حالت یې خراب و.
هغه هلک چې صفا مې ور په نامه کړې وه نوم یې سجاد و، همدا چې د سجاد کورنۍ خبره شوه صفا راغلې، نو په مرګه راغلل. نه یې مور راضي وه، او نه مې تر اوسه له صفا پوښتنه کړې وه. مور یې بهانه وکړه او ویل یې: صفا تر اوسه وړه ده، د سجاد کورنۍ وویل: سمده دا چې تاسو وایي چې لور مو وړه ده نو سمده، مونږ وروسته راځو، خو فکر مه کوئ چې مونږ شاته شو، کومه انجلۍ چې زما د زوی په نوم ده.

ketabton.com - The Digital Library

له دې موضوع صرف زما ښځه خبره ده، هغه هم په لومړیو کې خفه شوه، خو وروسته یې وویل چې ښه کار مو کړی دی. مونږ بې له تا څنګه ژوند مخته وړلای شو، الله دې زمونږ لور په خپله نیک بخته کړي، هر څه چې یې په تقدیر کې لیکل شوي وي هماغه به کیږي. خو ویره لرم که لور مې مخالفت وکړې او بل څوک وغواړي بیا به څه کوم؟

له یو چا مې آوریدلي وو، کله چې په مشکلاتو کې اخته شوی فکر دې کاوه ورځ په ورځ غرق کیږي، بله لاره او چاره دې نه درلوده، صرف یوه لاره ده د خلاصون لپاره، مخ را وګرځوه د اللهﷻ طرف ته، ځکه هغه ټول مخلوقات خلق کړي، اللهﷻ چې د خپلو بنده ګانو تقدیر لیکلي، لمونځ وکړه او د لایزال څخه د مرستې طلب وکړه، هغه خامخا ستاسره مرسته کوي.

ketabton.com - The Digital Library

په نیمو شپو به مې لمونځونه کول، او د مهربانه ربَّ څخه به مې مرسته غوښته.

.... صفا ....

وروسته د پلار له آزادې څخه، د پلار په غوښتنه پاکستان ته لاړم،زړه مې نه کېده خو پلار مې مجبوره کړم بېره سخته وه د مور او سبحان څخه لرې والي. څلور کاله پاکستان کې وم، د نیا حالت مې ښه نه وه، مونږ هم بېره را وګرځیدو افغانستان ته.
واي زما خدایا څومره مې دوي پسې زړه تنګ شوی وو، سبحان او مورمې زما په لیدو بېر خوشحاله شول زه هم همداسې، حتا د خپل وطن کوڅو پسې خفه شوې وم، هغه وخت انسان د خپل وطن په قدر پوهېږي کله چې ورڅخه لرې شي.

ketabton.com - The Digital Library

د خپل لید لورې کله چې پاکستان ته راغلم د نیا سره مې وم، صرف یوه ورځ په خپل کور کې وو، نپوهېږم ولې خو له کله چې پلار مې آزاد شوی هیڅ نه غواړي زه خپل کور کې اوسم، څو ځلې مې د نیا څخه وپوښتل څو کاله بعد په حقیقت پوه شوم، زما پلار د خپلې آزادې لپاره زما ژوند فدا کړی وو، زه هغه هلک ته ورکړې وم چې هیڅ مې نه پېژانده. د ناول ژباړونکي دسکوت هېنداري ټیم

په لومړیو کې ددې موضوع منل زما لپاره ډېر سخت وو، خو وروسته مې خپل پلار درک کړ، هغه صرف د خپلې آزادې لپاره دا کار نه وو کړی. بلکې ددې لپاره چې مونږ ښه ژوند ولرو، او د چا محتاجه نشو، نو دا پریکړه یې کړې.

پوهه شوم چې ولې یې نه غوښته زه په کور کې اوسم.

ketabton.com - The Digital Library

ددې لپاره چې زما ځای امن اوسي تل به د خپلې
نیا سره وم. هر کله به چې واده یا کوم بل ځای
ته تلم، نو مور به مې راسره وه.
سجاد مور به چې زه لیدلم، نو ټولو ته به یې
ویل دا انجلۍ زما اینګور ده، رسماً نه دي ګوژده
شوي خو دېر ژر به ګوژدن وکړو. او دا قضیه به
یې هر چاته ویله. خلاصه زه به چې هر چېرته
له هر چا سره تلم، د سجاد کورنۍ به وه، او
همدا خبرې به یادیدې.
کله به چې کور ته راتلم نو زړه مې غوښتل خپل
ځان له مېنځه یوسم، خو بیا به مې خپل مور او
پلار ته فکر کول. شاید دا خبره د وخت په
تېرېدو سره خلاصه شي، او هغه کورنۍ زما
څخه لاس واخلي. خو تل د یو سیوری پشان زما
شاته و، او ما هېڅ آرام نه درلوده.
ژوند زما لپاره داسي زهر شوی وو، که ما هر

ketabton.com - The Digital Library

ځومره کوښښ هم کاوه خوشحاله اوسم خو نه کېدل. دهغه کس سره د نامزادی کېدو بارکې مې فکر کاوه، خو فکر کولو سره یې لیونۍ کېدم، نیوهېږم ولې خو کله به هم د ګوزډې خبره یادېده، داسې وېرېدم لکه ما چې وژلو ته ورکوي. له ماشومتوب ځخه تر اوسه له سبحان سره آموخته شوې وم، هېڅ مې زړه نه غوښتل له هغه بیله شم. پوهېدم چې اوس د ماشومتوب دوران تېر شوي، باید له سبحان سره خپله رابطه پرې کړم، ځکه زمونږ خلک ډېر خبرې کوونکي ول، هر چا پسې به یې یو لوی داستان جوړاوه، نه مې غوښتل ما پسې هم کړم بیځایه داستان جوړ کړي، زما مور او پلار د سبحان تګ او راتګ سره کومه ستونزه نه درلوده.

ketabton.com - The Digital Library

فکر مې کاوه سبحان زما د ماشومتوب ملګری
دی، خو اوس د خپل احساس او علاقه چې د
سبحان وړاندې لرم پوهېږم، دا احساس کوم بل
څه و. د سبحان په لېدو زما دردونه رفعه کېدل،
تر کله به چې هغه زمونږ په کور کې وو داسې به
خوشحاله وم، لکه کوم چا چې ټوله دنیا راکړې
اوسي.
زه پوهېږم چې سبحان هم زما په وړاندې یو
احساس لرې، خو هېڅکله یې په ژبه نه راوړې.
تل به یې زما څخه ستاینه کوله، د ژوند هرې
ستونزې کې به یې زما سره مرسته کوله، حتا
ځیني وختونه به زمونږ راته، کله به یې چې
لیدل زه د کور په کارونو بوخته یم راسره به یې
مرسته کوله.
سبحان زمونږ له خپلوانو څخه و، زما پلار باندې
ډېر ګران وو، هر وخت به یې چې غوښتل زمونږ

ketabton.com - The Digital Library

کور ته راتللی شو.
زما مور تل خندل او ویل به یې : زویه ستا یې د انجونو په کارونو څه؟ پرېږده خپله یې یوازې کوي.
خو سبحان به ویل : نه ګلثوم تروري! زه همداسې آرامه یم، زړه مې نغوارېي دا دومره دېر کارونه صفا په یوازې ځان تر سره کړي.

نیا مې مړه شوه. د هغې له مړینې وروسته بېرته خپل کور ته راغلم. د سجاد کورنۍ بیا تګ را تګ ته شروع کړې وه، هر وار به چې راتلل زما مور به رد کول، خو هغوي به کواښ کاوه  او زما مور ته به یې ویل : که صفا بل چاته ورکړي، نه ستا خاوند او نه هم صفا ژوندي پرېږدو.
زمونږ ټولې کورنۍ په سرو سترګو ژړل. زما د پلار داسې پریکړې ټول ناارامه شول، له ټولو

ketabton.com - The Digital Library

څخه بدبخته زه وم. هغه انجلۍ چې دخپل پلار
د آزادۍ قربانۍ شوه، کله چې سبحان له دې
موضوع خبر شو، راته يې وويل : صفا کولاي
شي ماته وعده راکړې، او تر وروستۍ ساه به
زما انتظار وکوې؟ خپله هم پوهېږي چې ته ماته
څومره ارزښت لرې، نغوارم تا هېڅکله هم له
لاسه ورکړم.
نپوهېدم څه ځواب ورکړم سبحان ته، له يوې
خوا زما پلار له بلې خوا زما مينه، که ما دا اړيکه
نه واي منلاي کړې، يا يې زما ژوند برباد کول، يا
هم زما پلار يې له مينځه وړ.

....ګلثوم ....

اوف! خدايه څه وکړم؟ په دې ورځو کې هغه
کورنۍ چې سردار زمونږ لور يې ورپه نام کړې
وه، ډېر تګ او راتګ يې کاوه. هره ورځ به راتلل

ketabton.com - The Digital Library

سردار هم ټوله خبره ماته پرېښې وه، ویل به یې هر څه چې وایې ووایه، پریکړه ستا په لاس کې ده.

خپله یې ټولې خبرې اړ فیصلې کړې وي، اوس ماته وایي هر څه وایي ووایه.

ما باید هغوي ته یوه بهانه کړې وه، صفا بیخي نه راضي کېده، پرون مې ورته وویل عصاب یې ډېر خراب شو، او وي ویل: زه دومره ژر کوژده نه کوم، او د هغې کورنۍ له زوی سره هیڅ وخت!

نپوهېږم چې صفا سبحان خوښ دې کنه، خو بیا هم پوهېږم ځکه یوه مور یم پوهېږم چې زما د اولاد په ذهن کې څه دي، صفا فکر کوي زه په هیڅ نپوهېږم.

.... سبحان ....

ketabton.com - The Digital Library

ژوند هېڅکله زما سره یارۍ نه ده کړې. هر کار ته لاس ور وړم نه کامیابه کېږم، نشم کولای پیسې پېدا کړم که څه هم هڅه کوم خو هیڅ ده. دا چې صفا د ښایسته ځېرې برخمنه ده، نو ډېر خلک ورته په مرګه راځي.
که زه صفا له لاسه ورکړم څه؟ د دومره کسانو په مینځ کې هم زه دارو نلرم، صفا زما د ماشومتوب مینه ده، له هغې پرته راته ژوند هیڅ معنا نلرې، غواړم په مرګه ورشم، خو زما لاس تش دی، زه هیڅ پیسې نلرم. همدا موضوع مور ته ووایم راته غوصه کېږي. او راته وایي : زویه مشران وایي اول دې کور ډک کړه بیا ښځه وکړه، او بل زما څخه دوه ورونه مشران هم دي.
اوف! خدایا! خپله راسره مرسته وکړه، نغواړم صفا د تل لپاره له لاسه ورکړم، باید خپل احساس، عشق او علاقه ورته ووایم، کېدایشي

ketabton.com - The Digital Library

په دومره وخت کې خپله هم پوهه شوې اوسي
او ځان نانګاره کوي، سباته یې حتماً ورسره
خبرې کوم، ترڅو بل چاته لار ورنکړي. باید په
تمه شئ زه ځم یو بل ځای ته او کار کوم، پیسې
پیدا کوم، او ژوند له خپلې مینې سره یوځاي
جودوم إن شاء اللّٰه.

.... سردار ....

کله چې هغه خلک صفا پسې په مرګه راغلل،
نپوهېدم چې څه وکړم، څه ځواب ورکړم.
ښځې مې وویل : زمونږ لور تر اوسه وړه ده،
نغوارې دومره ژر کوژده وکړې. هغوي هم ومنله،
خو وي ویل څو کاله بعد بیا راځی. اوس خو مو
بهانه وکړه، وروسته که بیا راشي څه ځواب
ورکړم، صفا هیڅ نه راضي کېده ددې اړیکې
لپاره. هر انسان په ژوند کې په یوې غلطې

ketabton.com - The Digital Library

مرتکبه کېږي، خو له ما څخه ترټولو غټه غلطي شوې وه، خپله لور مې قربانۍ کړې وه، ددې وجدان عذاب سره څنګه ژوند وکړم؟ ورځ په ورځ زما عمر پورته کېږي او زه زړېږم، که چېرته مړ شم زما ښځه به بیا څه کوي؟ زما د غلطۍ له امله به شاید ډېر دردونه وزغمي، زه به هېڅکله خپل ځان ونه بخښم ددې کار له امله.

.... صفا ....

سهار وخته و، دروازه وټکول شوه لاړم سبحان وو، ورته مې وویل : راځه کورته. خو هغه وویل : نه زه غواړم له تاسره اړینې خبرې کوم، وروسته ځم. څو ساعته کېږي د دروازې شاته ولاړ دی، خو هیڅ نشته چې څه غواړي ووایي.

.... سبحان ....

ketabton.com - The Digital Library

د صفا په لیدو تل له ما څخه خبرې هېرېږي. تل به همداسې وم ډېر شرمېږم، صفا یوه ډېره چالاکه انجلۍ ده. هیڅکله د چا تأثیر لاندې نه راځي. خو زه يې تل د ښکلو سترګو په لېدو ګونګی کېږم، او خبرې رانه هېرېږي.

صفا: اوف سبحانه! غواړي خبرې وکړې کنه؟!
څو ساعته کېږي زه دې د دروازې سره په تمه کړې یم، که څوک ووینې بده ده، ژر کوه خبره دې وکړه، که کومه خبره د ویلو لپاره نلرې زه ځم.

سبحان: نپوهېږم له کوم ځای څخه يې شروع کړم صفا، کېدایشې ته هم زما د علاقې کومه چې زه له تاسره لرم پام شوي دي اوسي. خو نن غواړم د خپل زړه خبره درته وکړم. ګوره صفا زه له ماشومتوب څخه په تا باندې مئین وم، ستا

ketabton.com - The Digital Library

فکر زما ذکر دی. تا زما خوب او خیالونو کې يې، له تا پرته ژوند زما لپاره هيڅ معنا نلري، هغه ورځ کله چې ستا کور ته راغلی وم، پوه شوم چې تاپسې مرګه راغلي دي، پوهېږي دُنيا راباندې رنګه شوه. يوې لحظې لپاره مې داسي سوچ وکړ، لکه ته چې مې د تل لپاره له لاسه ورکړې يې. زه له خپل ځان څخه هم ډېر له تاسره مينه لرم، خو نشم کولي ستا لپاره په مرګه ستا مور او پلار ته درشم، ځکه زه هيڅ هم په لاس کې نلرم پيسې نلرم، کار هم نه کوم. پرون مې پريکړه وکړه، چې اول به له تاسره خبرې کوم، او وروسته به ځم ترکې ته، ځکه دلته چې مې هر څومره کوښښ وکړ، خو ومې نشو کولاي ښه کار پېدا کړم.

ته له ماسره ژمنه وکړه، چې د بل چا میرمن به

ketabton.com - The Digital Library

نه جوړېږي، او زما په تمه به کينې که زه څو
کاله بعد هم راغلم.

.... صفا ....

سبحان چې يو ځل خبرې شروع کړې نيوهېږم
څو ساعته يې ونيول چې خلاصي شي. ډېره
خوشحاله شوم، له هغو خبرو څخه چې ما
واورېدې، ځکه هم ورسره مينه درلوده، زړه مې
غوښتل د هغې له خولې څخه واورم، چې څه
احساس لرې زما پر وړاندې. ما د سبحان په
وړاندې خپله خوشحالي ښکاره نه کړه، هغه
غوښتل يو ځواب ورکړم او زما د ځواب په تمه
و، نيوهېدم څه ورته ووايم، صرف دومره مې
ورته وويل : سمده هر چېرته چې تګ غواړې لاړ
شه، لار دې د جنت له ګلونو ډکه شه، الهی کومه
ډېره ونه خوري په پښو دي. الله ته دې سپارم

ketabton.com - The Digital Library

زما خایسته میني، دا په تل په یاد ولره زه همیش ستا په تمه یم، که سل کاله بعد هم راوګرځی، پوهه شه یوه ستا سترګې په لار ده درته په انتظار ده.

.... سبحان ....

کومې خبرې چې صفا وکړې، د هغه په اورېدو زړه مې غوښتل والوزم، هغه هم په ما مئینه وه خدایا مننه کوم له تانه. زما ترټولو لویه هیله په حقیقت بدله شوه، د صفا له خبرو دومره خوشحاله شوم چې هیڅ یې نشم بیان کولې. له صفا او د هغې له کورنۍ څخه مې خدای پامانۍ واخېسته.
راغلم کورته د لیونیان پشان مې هره لحظه خندل، مور مې څو ځله وپوښتل: زویه خیرت خو دی، ولې دې له خندا خوله نه ټولېږي؟ ومې

ketabton.com - The Digital Library

ویل : موري نن که هرڅه راته ووايي ترسره کوم يې، خلاصه که نن مړ هم شم نه خفه کېږم، ځکه هغه څه چې ما په کلونو، کلونو ورته انتظار کړی نن مې واورېدل.

مورمې پوهه شوه، چې علاقه مې له صفا سره ده، او دا خبرې هم د هغې باره کې دي.

...

د شپې مې خپل کالي ټول کړل، ځينې نور شيان چې اړين ول هغه مې هم په بيک کې کېښودل، سهار وخته ويښ شوم لمونځ مې ادا کړ، له کورنۍ سره مې خدای پامانۍ وکړه، او روان شوم د کابل په لور.

مور مې ډېر وژړل، د هغې اوښکو به لېدو زما زړه ټوټه ټوټه شو، مور مې ده کنه، مورانۍ غوره

ketabton.com - The Digital Library

نعمت دي د اللهﷻ له طرفه.

سهار مې ونه غوښتل د صفا ليدو ته ورشم، ځکه د هغې د اوښکو دليدو زغم مې نه درلوده. ماښام نيژدې وو چې ورسېدم کابل ته. شپه مې کابل کې تېره کړه، په سبا مې حرکت وکړ د نيمروز په لورې. وروسته له دوه ورځو ورسېدم نيمروز ته، ټاګل شوې وه په قاچاقې لارې لاړ شم، او اللهﷻ پوهېږي رسېږم کنه، توکل په مهربانه خدای. يوه ورځ په نيمروز کې پاتې شوم، په سبا مو حرکت وکړ د ايران په طرف. لومړۍ ايران ته تلم وروسته ترکې ته. زه وم او زما سره پنځوس کسان نور هم وو، کورنۍ بيخي ډېرې وي، انسان سختي وينې تراوسه لا د لارې سر وو، او زما طاقت ختم شو، اللهﷻ پوهېږي چې دا ټوله لار به څنګه ځم...

ketabton.com - The Digital Library

.... صفا ....

د سبحان له تلو وروسته په پوره توګه يوازې
شوم، نپوهېږم ولې کنې ډېوله کورنۍ مې ترخنک
وه، خو د سبحان تشه هیچا نشوه ډکولای. هره
لحظه او هره ثانیه د هغه یاد زما سره وو،
روځې مې د میاشتو پشان تېرېدې او شپې مې
د کلونو پشان. خوب هم زما څخه تښتېدلی وو،
خوب مې نه وو ډېوله شپه به مې سبحان په فکر
کاوه. چېرته به وي؟ څه به کوي؟ویده شوی
کنه؟ په دې فکرونو مې زړه اور اخېست او
سوځېده به. له ستونزو او خطر څخه ډکه سفر
یې مخې ته درلوده، په قاچاقې لارې تک آسانه
ده وو، زما تر ډېولو ګران کس د خطر په لاره و، ما
اصلاً طاقت او قرار نه درلوده. د شپې به مې

ketabton.com - The Digital Library

لمونځونه کول او خپل ربَّ څخه به مې سوالونه کول.

...

څلور میاشتې تېرې شوې، د سبحان څخه هیڅ خبر نه و. زه نوره هغه سرشاره او خوشحاله انجلۍ نه وم، بدله شوې وم به یو خفه انجلۍ باندې. ټوله ورځ به مې ځان په کوټه کې بند کړی و، له هیچا سره مې خبرې نه کولې، د تنهایی په کونج کې به مې د خپلې خوښې نظم آورېده، او بس.
د شپې به مې دنظم په آورېدو به مې ژړل او په ژړا، ژړا کې به خوب وړلم. څو میاشتې تېرې شوې چې د سبحان د خبر په تمه یم، خو نیوهېږم چې څومره باید په تمه شم.

.... ګلثوم ....

ketabton.com - The Digital Library

له کوم وخت څخه چې سبحان تللی، صفا هم بیخي بدله شوې، د بې روحه جسد پشان شوې نه سمه ښوېږي خوري، نه له چا سره خبرې کوي صرف خپل ځان یې په کوټه کې بندي کړی. دې حالت ته یې ډېره اندېښمنه وم. د صفا له پلار سره مې خبرې وکړې ترڅو ډاکټر ته یې یوسئ. داکټر ته لاړه خو هیڅ ګټه یې ونه کړه، شپه او ورځ په هماغه یو حال وه. زما یوه دانه لور په څه غم اخته ده؟ زړه مې ټوټه ټوټه کېده د حالت په لېدو یې، هیڅ مرسته مې ورسره ونه کولای شوه. څو میاشتې وشوې چې له سبحان څخه هم خبر نشته، که کوم خبر ورسېده، صفا شاید خوشحاله شي...!

....سبحان ....

ketabton.com - The Digital Library

له یوې میاشتې وروسته د تهران ښار ته ورسېدو. هر څومره چې مې کوښښ وکړ، خو مې نشوای کولی خپلې کورنۍ ته احوال ورکړم، ځکه چې موبایل مې نه درلود او نه مې شوای کولی چې بهر هم لاړ شم. له اطاق څخه که وتلی هم وم، نیول کېدم. د دې لپاره چې ژمی و، د ترکیې د لارې حالت هم چندانې ښه نه و. قاچاقبر وویل باید یوه میاشت په ایران کې پاتې شو. په یو سوپرمارکېټ کې یې راته کار پیدا کړ.

په کار کولو مې پیل وکړ. د دې لپاره چې زه په کار کې نوی وم، نو چندان ښه معاش یې نه راکاوه. میاشت ختمه شوه، معاش چې مې ۸ زره و، وا مې خیست او د ترکیې په لور مو حرکت وکړ.

ketabton.com - The Digital Library

دومره سختۍ او بدبختۍ چې د ترکيې په لار کې مې وليدې، په ټول عمر کې مې دومره سختۍ نه وې تېرې کړې. زړه مې تر خولې رارسېدلی و. بې له اندازې پښېمانه وم له راتګ څخه. له ځان سره مې ويل چې تر ټولو لويه غلطي مې په ژوند کې همدا سفر و چې د قاچاق له لارې مې وکړ.

په هره لاره کې به څو شپې او څو ورځې انتظار پاتې کېدو، تر څو بې له دې چې پوليس مو ووينې، تېر شو. زيات وختونه مو د شپې له خوا تګ کاوه. تقريباً دوه مياشتې يې ونيولې تر څو ترکيې ته ورسېدم.

يو له ملګرو څخه مې په ترکيه کې و. څنګه چې ورسېدم، له هغه ملګري سره مې يوځای کار کاوه. د ملګري له موبايل څخه مې له پلار سره

ketabton.com - The Digital Library

اړیکه ونیوله، د رسېدو خبر مې ورکړ. ټول ډېر خوشاله شول. ورته مې وویل چې حتماً صفا ته هم ووایاست.

....امین ....

نن ورځ ډېر خوشاله یم. له یو څو میاشتو وروسته مې ښه خبر واورېد. زوی مې خپل مقصد ته ورسېد. سبحان څو ځله تکرار کړل چې زما د رسېدو خبر صفا ته هم ووایاست. حیران شوم چې له صفا سره څه اړیکه لري؟ ولې صفا د سبحان لپاره دومره ارزښت لري؟ دلته چې و، هم به یې تل صفا، صفا ویل. اوس چې هلته تللی دی، بیا هم د صفا په فکر کې دی.

....صفا ....

ketabton.com - The Digital Library

نن د سبحان خور راغلې وه. د سبحان د رسېدو خبر يې راکړ. دومره خوشاله شوم چې زړه مې غوښتل وزرې ولرم او الوتل وکړم. داسې مې احساس کاوه لکه بيا چې زېږېدلې يم. روح مې تازه شو. زر ځله مې د خدای شکر ادا کړ.

کله چې سبحان ترکيې ته ولاړ، د خپلو خاطراتو کتابچه يې ماته راکړه. وروسته له تګ څخه يې، هر کله چې به مې زړه ورپسې تنګ شو، هغه کتابچه به مې خلاصوله. کله به مې چې ليکنې لوستلې، هيڅ باور مې نه راتلو. په ټولو صفحو کې يې زما په اړه ليکلي وو، دا چې څومره مينه راسره لري.

مينه ناکې جملې، د راتلونکي لپاره څومره پلانونه يې درلودل. ليکلي يې وو چې لومړی ځل چې مې وليدې، درباندې مئين شوم. فکر

ketabton.com - The Digital Library

کوم زه هغه وخت ۱۵ کلن وم. دا د علاقې حس چې ستا په نسبت لرم، زما په لاس کې نه دی.

سبحان څومره په ما مئين و، خو زه هېڅ متوجې نشوم. دا چې يو نفر دومره له ما سره مينه ولري، د لېونيانو په شان راباندې ميئن و... ځان مې د ځمکې پر سر تر ټولو خوشاله انجلۍ حس کاوه.

نور خپه نه وم. د سبحان له طرفه مې زړه بېغمه شوی و. خوشاله مې خپل ژوند ته ادامه ورکړه. که څه هم له سبحان سره مې هېڅ اړيکه نه درلودله، خو بيا هم خوشاله وم، ځکه پوهېدم چې حالت يې ښه دی.

د سبحان د کورنۍ اقتصادي حالت ډېر ضعيف و. يوازې د ډوډۍ راوړونکی يې سبحان و.

ketabton.com - The Digital Library

سبحان د کورنۍ مشر زوی و. همیشه به یې ویل چې: «زه کار کوم تر څو مې وروڼه شتمن شي، واده چې وکړم بیا به خپل ژوند جوړوم.»

نه پوهېدم چې تر کومه به د سبحان په انتظار پاتې شم، خو وعده مې ورکړې وه چې د ژوند تر پایه به درته منتظره یم.

پنځه کاله تېر شول. زه ۲۵ کلنه شوم. په دې پنځو کلونو کې مې حتا یو ځل هم د سبحان غږ وانه ورید، مګر ځینې وختونه یې کورنۍ زموږ کره راتله او د سبحان په اړه به یې راته ویل، یوازې دا چې «سبحان ښه دی» او بس.

خواستګاران هم ډېر راتلل. مور او پلار مې غوښتل چې زه یې قبوله کړم، خو دوی نه پوهېدل چې زما په زړه کې بل څوک دی.

ketabton.com - The Digital Library

.... سردار ....

له اوو کلونو وروسته یو ځل بیا د سجاد کورنۍ د صفا غوښتلو لپاره راغله. اوس نور بهانه هم نشم کولی چې صفا کوچنۍ ده یا کوم بل دلیل راوړم. صفا لویه شوې ده او اوس یې د واده وخت دی.

خو نه پوهېږم څنګه ورته ووایم. مور یې هم هېڅ رضایت نه لري، وایي چې هغوی ښه خلک نه دي. اندېښمن یم چې څه کار باید وکړم.

نن شپه مې پرېکړه وکړه چې له صفا سره باید خبرې وکړم، ځکه تر ټولو اړین د صفا رضایت دی.

صفا : نن شپه پلار مې وویل: «لورې، راشه، غواړم له تا سره د یوې مهمې موضوع په اړه

ketabton.com - The Digital Library

خبرې وکړم.» زړه مې ولړزېد. یو ځل بیا مې فکر کاوه چې غواړي ما نامزاده کړي.

سردار : وګوره، زما ښایسته لورې! په دې دنیا کې هېڅ شی ماته ستا له خوشحالۍ څخه مهم نه دی. ته خپله پوهېږې چې ما په ژوند کې ډېرې غلطۍ کړې دي. ستا له ژوند سره مې هم لوبه کړې ده، هغه کار چې یو پلار یې هېڅکله د خپلې لور له ژوند سره نه کوي، خو ما بدبختانه دا کار وکړ.

سجاد ښه هلک دی، همدارنګه کورنۍ یې هم ښه ده، خو زما لپاره یوازې ستا خوشحالي مهمه ده. زه له تا نه نه غواړم چې په زوره دا اړیکه قبوله کړې.

ketabton.com - The Digital Library

هره خبره چې دې په زړه کې وي، بې له کومې وېرې خپل پلار ته ویلای شې. که ته دا کوژده له سجاد سره نه قبلوې، زه به حتماً یو کار وکړم. پوهېږم چې ما غلطي کړې ده، خو تر دې حده بې‌غیرته نه یم چې خپله لور هغه چا ته ورکړم چې هېڅکله پرې راضي نه وي.

صفا : پلاره! که چېرته زه ووایم چې هېڅکله په دې کوژده رضایت نه لرم، ته څه کوې؟ کولی شې چې رد یې کړې؟ غواړم په خپل خوښه ژوند وکړم. ته خپله پوهېږې، پلاره، چې ژوند د یوې ورځې یا دوو ورځو کار نه دی؛ ستا په خبره، د عمر سودا ده. که چېرته زه راضي ونه اوسم، څنګه کولی شم ژوند وکړم؟

سردار : سمه ده، د پلار ګرانې! تر څو چې ته راضي ونه اوسې، هېڅ د زور کار نه دی. زه د

ketabton.com - The Digital Library

سجاد له کورنۍ سره خبرې کوم، ورته وایم چې خپل زوی ته مو یوه بله جلۍ وغواړئ. زه خپله د کوژدې او واده ټول مصارف ورکوم. فقط له تاسو غواړم چې اجازه راکړئ زما لور راحته ژوند وکړي او په خپله خوښه واده وکړي.

....ګلثوم ....

د سجاد کورنۍ راغلې وه د دسمال د وړلو لپاره، خو کله چې سردار وویل چې زما لور راضي نه ده او غواړي په خپله خوښه واده وکړي، قیامت جوړ شو. د سجاد کورنۍ پر سردار حمله وکړه، دومره یې ووهه چې حتا نشوای یې کولی چې ودریږي.

ما او صفا په لوړ غږ ژړل او له همسایه‌ګانو څخه مو مرسته وغوښته، خو خلکو یوازې د ننداري

ketabton.com - The Digital Library

لپاره راټولې شوې وو. کله چې یې ولیدل چې د سردار حالت ډېر خراب شو، له وهلو یې لاس واخیست.

د تللو په حال کې یې بیا اخطار ورکړ چې موږ هېڅکله اجازه نه ورکوو ستاسو لور ناوې شي. که چېرته وغواړې له یو چا سره واده وکړې، د واده ورځ به یې په جهنم ور بدله کړو.

....صفا ....

نه پوهېدم چې تر دې حده د سجاد کورنۍ بې‌رحمه ده. بېچاره پلار مې له ډېر درده شپه او ورځ آهونه کول او ډېر ځورېده.

ژوند څومره بې‌رحمه دی! کله چې د پلار حالت وینم، وایم کاش قبوله کړې مې وه دا د زور کوژده، دا دښمني به ختمه شوې وه. یوازې زما

ketabton.com - The Digital Library

ژوند په خطر کې نه و، بلکې زما د کورنۍ او سبحان ژوند هم په خطر کې و.

که چېرته ما له سبحان سره واده کړی وای، په هغه به یې حتماً څه کړي وای. ما څنګه طاقت کړی وای؟ خدایه، څومره بد تقدیر دې راکړی دی!

په ماشومتوب کې مې فکر کاوه چې تر ما خوشبخته څوک نشته، نه پوهېدم چې په ځوانۍ کې به څومره تریخ ژوند زما په انتظار کې وي. کاش سبحان زما په ژوند کې نه وای... له ما سره یو ځای هغه هم تباه شو.

....سبحان ....

عمر څومره ژر تېرېږي، ورځ تر بلې بوډا کېږو، خو ژوند او کار هېڅکله اسانه نه شي کېدای.

ketabton.com - The Digital Library

عمر او ځواني مې په غربت او د یار په غم کې تېره کړه.

۱۰ کاله وشول چې له خپل وطن څخه لرې یم. هر څومره چې کار کوم او زحمت باسم، خو نشم کولی له ځان سره سرمایه جوړه کړم تر څو بېرته خپل وطن ته لاړ شم او پاتې عمر مې له خپلې کورنۍ او صفا سره تېر کړم.

په دې کلونو کې هر څومره کار چې مې وکړ، پیسې مې ټولې خپلې کورنۍ ته ولېږلې. زموږ د کورنۍ اقتصاد ډېر بد و. کله چې ما کار پیل کړ، یوازې زه د کورنۍ د ډوډۍ راوړونکی وم.

صفا ته مې وعده ورکړې وه چې څنګه له ایران څخه راشم، کورنۍ مې ستا غوښتلو ته درلېږم، واده به وکړو او یو ښکلی، له خوشالیو ډک ژوند

ketabton.com - The Digital Library

به ولرو، خو ۱۵ کاله وشول چې صفا زما په انتظار ده.

زړه مې ډېر غواړي چې بېرته خپل وطن ته لاړ شم، خو کله چې هلته ولاړ شم، نه به پیسې ولرم او نه به کوم کار. خو بیا هم، بغیر له خدایه مې بل څوک ملاتړ کوونکی نه دی.

....صفا ....

ستا خیال لکه مقناطیس دی،
زه هره لحظه بې اختیاره ستا خواته کش کېږم.

د سبحان په نوم مې خپله ځواني قرباني کړه. ۳۵ کلنه شوم، خو هېڅ خبر یې له راتګ څخه ونه شو. کاش یوازې د مینې درد مې سوځولم، خو دا لعنتي غچ هم هېڅ ختمېدونکی نه و.

ketabton.com - The Digital Library

په هېڅ ځای کې ارام نه لرم، نه په کور کې او نه هم دباندې. کله چې له کوره دباندې ځم، د سجاد کورنۍ د ساتونکو په شان زما تر شا وي. هر قدم چې واخلم، هغوی خبرېږي.

هره خواستګاري هم چې زما پسې راځي، کله چې په دې خبر شي، بېرته ځي. هغې کورنۍ ته اخطار ورکوي، زما په اړه بدې خبرې کوي او هره خبره د تل په شان تکراروي. وايي: «دا انجلۍ زموږ د هلک، سجاد، په نوم ده.» او له دې خبرې څخه نورې بدې خبرې هم کوي.

خدای دې ورته سخته سزا ورکړي! سجاد يو کال مخکې واده وکړ او د يوه ماشوم پلار دی، خو ما نه پرېږدي. زما ژوند په ډېر بد شکل دوام لري.

ketabton.com - The Digital Library

یوازینی امید مې الله ته دی. نه پوهېږم ولې، خو د زړه له کومې هیله‌منده یم چې حتماً به یوه ورځ راشي چې زما د ژوند هیلې او خوبونه په حقیقت بدل شي.

بېچاره پلار مې زما له امله ډېر خپه و. ویل به یې: «زه ستا د دې بدبختۍ لامل یم، هیله کوم ما وبښه، د پلار لورې.»

زما ګران پلار ورځ تر بلې سپین‌ږیری کېږي. ورونه مې لوی شول، خو ښه هلکان نه شول. د پلار د کار او ژوند په اړه هېڅ پروا نه لري. هر څه چې یې زړه غواړي، هماغه کوي.

بېچاره پلار مې چې به هر څومره نصیحت ورته کاوه، هېڅ غوږ یې نه ورته نیوه. د پخوا په شان

ketabton.com - The Digital Library

نه وو. زمونږ د ژوند اقتصاد ډېر خراب شو، په مجبورۍ مو ګوزاره کوله.

پلار، مور او زه–یوازې همدغه درې کسان په کور کې وو. ورونه مې نه شپه او نه ورځ، هېڅکله په کور کې نه وو.

له پنځلسو کلونو وروسته د سبحان د راتګ خبر راغی. د راتګ خبر چې مې واورېد، بې له اندازې ډېره خوشاله شوم. یوازې الله ﷻ پوهېده چې څومره مې زړه ورپسې تنګ شوی و.

.... سبحان ....

دردونه او غمونه زمونږ شا نه پرېښودي. بغیر له کورنۍ مې او صفا ښخه نور هېڅ د زړه خوشالي مې نه وه، خو د پلار حالت مې په دې ورځو کې ډېر خراب شوی و. کله چې مې ورسره خبرې

ketabton.com - The Digital Library

وکړې، راته یې وویل: «سبحان زویه! هر څنګه چې کېږي، غوارم د اخر ځل لپاره دې ووینم.» د پلار د دې درد ډک غږ له اورېدو وروسته مې پرېکړه وکړه چې بېرته افغانستان ته ولاړ شم. په بیړه مې ټکټ واخیست، سبا د جمعې په ورځ مې پرواز و. له څو ساعتونو وروسته کابل ته ورسېدم. په کابل کې مې کورنۍ او صفا ته ډالۍ واخیستې. شپه وه چې حرکت مې وکړ زموږ د کلي په لور. سهار وختي کور ته ورسېدم. د خدای شکر، کورنۍ مې د پخوا په شان ټول د یو بل تر څنګ وو، خو پلار مې نشوای کولی چې له خپل ځای څخه پورته شي. د پلار د حالت په لیدو ډېر خپه شوم. یوه شپه په کور کې وم. سبا ورځ مې پلار یووړ کابل کې ډاکټر ته. یو څو ورځې کابل کې وو. پلار مې په روغتون کې بستر شو، خو هېڅ بدلون پکې رانغی، له پخوا

ketabton.com - The Digital Library

ښځه يې حالت لا ډېر خرابېده.
بېرته کور ته راغلو. له پنځو ورځو وروسته مې پلار وفات شو. د پلار مرګ مې ملا را ماته کړه. د پلار له مرګ وروسته د ژوند مسؤليتونه مې څو برابره شول. څومره چې وطن ته د تګ لپاره خوشاله وم، د صفا د ليدو لپاره مې شېبې شمارلې، خو دومره لوی غم مې پر سر راغی چې حتا يو ځل هم د صفا ليدو ته ولاړ نه شوم. د پلار د مرګ په ورځ صفا د خپلې کورنۍ سره راغلې وه، خو ما هېڅ ونه ليدل. دومره د ژوند په مشکلاتو کې ګېر شوی وم چې د ماشومتوب مينه مې هم هېره کړې وه. هغه پيسې چې مې له ځان سره راوړې وې،
هغه دومره ډېرې نه وې، زه د خپل ورور هاشم دوکان ته ولاړم پلار مې تل راته ويل: د خپل ورور هاشم خيال ساته، ته له هغه نه لوی يې. تر

ketabton.com - The Digital Library

کومه چې مې وس رسېده، هڅه مې کوله څو
کورنۍ ته ارام ژوند برابر کړم.
له مور مې د صفا په اړه وپوښتل، هغې کیسه
راته وکړه. هغه څه چې زما پر سر راغلي وو، زه
پرې نه پوهېدم. باور مې نه راتله چې د صفا
پلار د خپلې ازادۍ په بدل کې د هغې ژوند تباه
کړی و. خدای پوهېږي چې له صفا سره څه شوي
دي.
په ترکیه کې، کله چې مې ویل بېرته افغانستان
ته ځم، زما ارمان دا و چې صفا د ځان لپاره
جوړه کړم، د هغې له کورنۍ څخه یې وغواړم،
کوژده ورسره وکړم او د تل لپاره زما شي. هغې
خپله ځواني زما په تمه تېره کړه، او پر خپلې
ژمنې ولاړه وه؛ خو ما څه وکړل؟ زه ونه توانېدم
چې خپلې ژمنې ته عمل وکړم، هغه څه ترسره
کړم چې ترې مې غوښتنه کړې وه.

ketabton.com - The Digital Library

د انتظار موده پنځلس کاله کمه موده نه ده، خو ما په دې اوږده موده کې ډېرې پیسې پیدا کولی شوای. کاش هماغه شیبه مې خپل ژوند له صفا سره تېر کړی وای. نه مې غوښتل چې انتظار وکړم. کاش د هغې د احساس په اړه مې فکر کړی وای. نور پر دې څه نه وایم؛ کېدای شي صفا اوس خوشحاله وي، کېدای شي واده یې کړی وي او له بل چا سره د ماشومانو مور شوې وي، او یوه کورنۍ یې جوړه کړې وي. خدای ښه پوهېږي. راتلونکی مې په خپل لاس کې و، خو ما د خپل لاسه د خپل او د بل چا راتلونکی تباه کړ.

بالکل هماغه یو څوک یې چې زړه مې غواړي ورسره یا ورپسې زاړه شم، ته هماغه څوک یې چې ښار یې ستا لپاره وایي:
"ستا له شتون پرته ښار د لیدلو ارزښت هم نه

ketabton.com - The Digital Library

لري."

ډېر زړه مې غواړي چې لاړ شم او صفا (ستا)ووینم، خو شرمیږم، نه شم کولای چې د هغه معصومو سترګو ته دې وګورم.

که سبا رانه وپوښتي چې څو کاله نور به انتظار درته کوم، څه به ځواب ورکړم؟

ځینې وختونه انسان ته ژوند داسې سخت شي چې حتی په ځوانۍ کې د زړښت فکر کوي.

ډېر ستړی شوی یم، یوازینی شی چې په زړه کې پاتې دی هغه امید دی چې پر خدای لرم.

بیا مې یاد شي چې خدای هېڅکله خپل بنده د هغه له درد سره یوازې نه پرېږدي.

یوازیتوب انسان نه پرېږدي، خو هیله بیا هم د زړه په دننه کې ځوانه پاتې کېږي او بیا زړه د ژوند کولو ته خوشحالوي.

ketabton.com - The Digital Library

،         .... صفا ....

ما د کوم ګناه له امله ستوري تعقيب کړل؟
ستا د تنهايۍ په شپه کې هېڅوک زما د غم
پوښتنه نه کوي،
د نااميدۍ په اوج کې ناست يم.
يو سوړ باد د ونو په منځ کې چلېږي.
که دې ځان له واورې سره پرتله کړې، دومره
سپين دی
چې زما روح هم تازه کوي،
خو بيا هم د تنهايۍ په شپه کې څوک نه راځي
چې زما غم وپوښتي.
هغوی ته څه ووايم؟ زه خو له هر څه سره لاس
او ګرېوان يم،
هغوی خاندي...
زه تر ټولو ډېر يواځې يم.

ketabton.com - The Digital Library

سبحان بېرته افغانستان ته راستون شو، خو یو ځل هم رانغی چې ما ووینې.

له ځانه سره مې ویل، ښایي سبحان هم زما په څېر بې‌پروا شوی وي،

خو نه، سبحان ډېر بدل شوی و، او دا بدلون زما په زړه کې داسې اثر وکړ لکه زخم چې پرېښود، ځکه هغه هماغه و چې تل به له ما سره و

دا خبرې خپل زړه ته وایم چې ونه ژاړې.

له ځان سره وایم، ښایي تل په کارونو بوخت وي،

خو اوس خو دلته دی، آن یو ساعت هم وخت نه لري چې زموږ کور ته راشي.

سبحان دومره د ژوند په ستونزو کې ښکېل شوی چې لکه ما یې هېره کړې وي،

هغه څوک چې خپل ژوند مې د هغه لپاره قربان کړ.

ketabton.com - The Digital Library

د مور او پلار پر ورانديې د سبحان لپاره ودرېدم،
د هغوی له پرېکړو سره مې مخالفت وکړ،
خو سبحان په همدې کارونو زما زړه مات کړ.
سردار: اوس مې حالت هېڅ ښه نه دی.
ډېر کمزوری شوی یم، تل د خدای حضور ته دعا
کوم،
وایم که پورته لاړ شم (یعنې مړ شم) نو زما مرګ
حق دی، ځکه له مرګه نه یم تښتېدلی.
نور نه شم کولای دا ورځې تېرې کړم، ورځ تر
بلې بېوسه کېږم،
احساس کوم چې له یوه ځایه بل ځای ته په
سختۍ وړل کېږم.
که ژوندی پاتې شم، ډېرې خبرې به وکړم.
یوازې زما کورنۍ ده چې زما په اندېښنه کې ده،
زویه...اصلاً نهغوارم خپل لور ووینم، درناوی مې
ورته نه دی پاتې؛ هغه په خپله کوټه کې بند ده.

ketabton.com - The Digital Library

هر ځای چې ځي، د سبحان کورنۍ یې په خبرو او بدو ټکو ځوروي. کله چې کور ته راځي، لکه لیونۍ کېږي؛ هر څه چې مخې ته ورشي ماتوي. د دې حالت په لیدلو هره لحظه ځان ملامتوم.
په دې پلارونو لعنت وایم چې داسې کارونه کوي، چې د خپلو اولادونو ژوند خرابوي او د دوی ارامي له منځه وړي.
خو ما څه وکړل؟ د یوې نجلۍ ژوند مې تباه کړ. ما ام د سجاد سره واده کړه. فکر مې کاوه چې که واده وکړي، کېدای شي د بلې نجلۍ ژوند آرام شي، خو دوی لا هم هغې ته زیان رسوي.
ما له خدایه غوښتنه کړې ده چې د مرګ نه مخکې د خپلې لور خوښي ووینم، څو په قبر کې ارام واوسم. ډېر وخت تېر شوی چې صفا له زړه نه دی خندلې؛ هغې خندا کول هېر کړي دي.

ketabton.com - The Digital Library

په ماشومتوب کې يې له سبحان سره تل خوشحاله وه، خو د سبحان له تلو وروسته سبحان بدل شو. اوس چې سبحان بېرته راغلی، باید ورسره خبرې وکړي. بهنم د صفا په اړه له هغه وپوښتي. سبحان یوازېنۍ څوک و چې له ماشومتوبه تر اوسه د صفا حال د هغه له خبرو ښه معلومولای شو.

سبحان: له هغه وخته چې زما پلار وفات شوی یو کال تېر شوی، غواړم له خپلې مور سره یو ځای د صفا په اړه ورسره خبرې وکړم.رسېدلی و چې لاړ شي خو د کوژدې/خواستګارۍ توان یې نه درلود، ځکه بېپیسه و، او بدبختي دا چې د ژوند ډېره برخه مې همداسې تېرېږي—انتظار کوم چې که خدای کول یو وار به بختیار شم، کوژده به وکړم، وروسته به ترکیې ته لاړ شم، کار به کوم، پیسې به پیدا کړم، بیا به راځم او په ښه

ketabton.com - The Digital Library

ړول واده کوم. خو لومړی باید له مور سره خبرې وکړم. په خیال کې مې هر څه ډېر اسانه ښکاري، خو راځئ وګورو چې څه کېږي.
مورې جانې! غواړم له تاسې سره د یوه مهم موضوع په اړه خبرې وکړم.
شریفه (مور): ووایه زویه، اورم دې—کوم مهم موضوع ده؟
سبحان: مورې، د پلار له مرګه یو کال تېر شو. څو ځله مې مخکې هم درته ویلي وو، خو تا منلې نه وه. خو نور وخت نه دی پاتې—راځه چې د کوژدې لپاره ولاړ شو.نور باید تر کومه وخته پورې د صفا انتظار وکړم؟ زه له دې انتظاره ستړی شوم. د سجاد د انتظار خبره هم ختمه شوه. نور صفا د ژوند لپاره هېڅ کار نه لري.

ketabton.com - The Digital Library

شریفه: زویه، ما هم هغه وخت درته ویلي وو، اوس هم هماغه خبره کوم. زه هېڅکله راضي نه یم چې ته له داسې نجلۍ سره واده وکړې. که ته له صفا سره واده وکړې، ژوند به دې په خطر کې وي؛ د هغې کورنۍ به تا ارام پرېنږدي. هره بله نجلۍ چې ته یې وغواړې، زه به درته واخلم، خو له صفا نه تېر شه.

سبحان: یعنې څه؟ چې زه له صفا څخه تېر شم؟ مورې، ته پوهېږې چې زه څومره له صفا سره مینه لرم. زه پرته له هغې ژوند نه شم کولای. مهرباني وکړه مورې، ما مه مجبوره کوه چې داسې کار وکړم چې وروسته پرې پښېمانه شم.

شریفه : سمده ده زویه. ستا په مرګه ورځو خو صفا د مور غوښتنې شاید دېرې اوسي، او به

ketabton.com - The Digital Library

ونشو کولي پوره يې کړو.

سبا شو، مور مې تياره شوه او لاړه د صفا دوي کور ته، زه هم ورسره لاړم. د صفا له کورنۍ سره ستړې مشي وکړل، غوښتل کې بازار ته لاړم شم چې دصفا پلار وويل :

سردار : زويه که وخت لرى، زه غواړم له تاسره خبرې وکړم.

سبحان : هو کاکا جانه وخت لرم، مهربانۍ وکړئ غوږ يم درته.

سردار: زويه، لنډه درته ووايم، ته خپله پوهېږې چې صفا څومره تورې سره مينه لري. له ماشومتوبه تر اوسه پورې هغې ته تر هر څه، حتى د سجاد له کورنۍ هم زيات ارزښت ورکړى دى. دا چې د هغې د واده غوښتنې ته راغې، تل

ketabton.com - The Digital Library

به يې پلمه کوله. ما ترې وپوښتل: لورې، د زړه خبره دې راته ووايه. هغې راته وويل: زه د سبحان په تمه يم، بل چا ته نه ګورم.له هغه وروسته زه له بل چا سره واده نه کوم. ستا له امله هر څوک چې راغلل، ما يې رد کړل. زه پوهېږم چې ته هم صفا سره مينه لرې. ته خپله وينې چې زما حالت هم ډېر ښه نه دی، ورځ تر بلې کمزوری کېږم. خدای پوهېږي چې تر سبا پورې به ژوندی يم که نه. صفا زه تا ته په امانت درسپارم؛ وېرېږم چې زما له مرګ وروسته د سجاد کورنۍ هغې ته کومه ستونزه پيدا نه کړي. زما لومړۍ هيله خدای ته، او دوهمه تا ته ده، زويه؛ ته به تل د صفا او د هغې د کورنۍ خيال ساتې. اوس هم له تا پرته بل چا ته زما فکر نه رسي چې صفا دې ورته وسپارم.

ketabton.com - The Digital Library

سبحان: ولې داسې قسم خورئ، کاکا سردار؟ خدای دې تاسو له موږه کم نه کړي. دا خبره بیا د صفا په اړه مه کوئ؛ زما زړه تنګ شي. زه به له خپل وسه زیات د هغې خیال ساتم. نن مې مور هم د صفا د غوښتنې (کوژدې) لپاره راغلې ده....دا خبره ده؛ که تاسو ومنئ، نو زه او صفا به سره نامزد (کوژدن) شو.

سردار: زویه، له ما سره هېڅ ستونزه نشته، صفا هم راضي ده؛ خو نه پوهېږم چې مور یې څه وايي. که د هغې مور هم راضي وي، نو بیا هېڅ مشکل نشته.

سبحان: خدای دې وکړي چې خاله مې هم ومني.

ketabton.com - The Digital Library

له کاکا سردار سره له خبرو وروسته چې بهر ووتلم، ډېر ښه احساس مې درلود؛ د هغه خبرې بې‌کچې راته خوښ شوې. نږدې د ماښام و، چې کور ته ورسېدم. په بیړه د مور مخې ته ورغلم، ترې مې وپوښتل: مورې، څه وشول؟ د صفا مور څه وویل؟

شریفه:اې زویه، څه ووایم! کاشکې ته پخپلو غوږونو اورېدلی وای چې د صفا مور څه ویل؛ هغې خو ستا په اړه یو څه هم ښه ونه ویل. نه غواړي سبحان، دا هلک کار نه لري، څنګه به زړه مې ومني چې یوازینۍ لور مې دې داسې هلک ته ورکړم؟ لور مې بدبخته ده چې اوس د یو داسې سړي سره ده چې نه کار لري نه روزګار، که واده وکړي نو لا به بدتره شي.

ketabton.com - The Digital Library

سبجان: مورې، يعنې رښتيا مې خاله ته همدا خبرې وکړې؟ هره خبره مې صافه او روښانه ورته وکړه، هغې هېڅ ونه ويل.

شريفه: هغوی ته به ووايم، ويل يې هر وخت چې هلک پيسې پيدا کړي، د کور خاوند شي او ژوند يې سم شي، بيا دې د صفا د لور غوښتنه وکړي. صفا بېچاره هېڅ ونه ويل، يوازې ژړل يې.

سبحان: د مور له مخې ولاړم، خپلې کوټې ته لاړم، يوازې کښېناستم او له خپله بخته مې وژړل. ای خدايه، څومره بدبخته يم. ما فکر نه کاوه چې د صفا مور به داسې ځواب راکړي. زړه مې غوښتل چې له ټولو نه لېرې شم، پرېکړه مې وکړه چې بېرته ترکيې ته لاړ شم. له تګ مخکې يو ځل غوښتل چې صفا ووينم.

ketabton.com - The Digital Library

همدا چې صفا ما ولید، په ژړا شوه. صفا څومره بدله شوې وه! له ډېرو کلونو وروسته مې هغه له نږدې ولیده، ډېر وخت تېر شوی و او ما یې زړه نه و مړ کړی.
هغې ته مې وویل: صفا، زه بېرته ځم، ځکه چې په ایران کې مې د کار چارې سمې روانې دي. کېدای شي هغه وخت هېڅ خنډ نه وي، مور دې هم نور پلمه ونه کړي.

صفا: باید څو نور کاله هم انتظار وباسم، سبحانه. لږ فکر وکړه، خپله ځواني مې له لاسه ورکړه. زما مخ ته وګوره، وګوره چې وخت ما سره څه وکړل. هغه ورځ به خدای خبر وي، چې څو کاله وروسته به بېرته راګرځې.

سبحان: صفا ته ووایه زه څه وکړم؟! دلته خو کار هم نه لرم پیسې نه لرم، تر څه وخته پورې

ketabton.com - The Digital Library

به بېکاره یم ؟

صفا: سمده سبحانه ته ولاړ شه خپله ښه پوهېږي. زما ژوند خو تباه او برباد شوی، او ورځ په ورځ بربادېږي. حد اقل ته دی خپل ژوند جوړ کړه.

سبحان: لیونۍ شوې صفا. څه وایې ولاړ شم؟ ما اوتا یوځای خپل ژوند جوړ وو، ته صرف په تمه اوسه شاید ناوخته راشم، مګر حتماً یوه ورځ راځم له ډکو لاسونو سره.

....ګلثوم ....

هغه وخت چې دسبحان مور صفا د مرکې لپاره راغله زړه مې نه کېده د رد (نه) ځواب ورکړم. مګر نه پوهېږم دسجاد کورنۍ له کومه ځایه

ketabton.com - The Digital Library

خبره شوې وه. د سجاد مور راغله دتل په څېر
یې کواښ وکړ، که صفا بل کس ته ورکړي،

خاوند به یې ووژنو، او واده به یې ورته جهنم
کړو مجبوره شوم چې ورته بهانه وکړم.
کله چې مې دا کار وکړي نو صفا ډېره خفه شوله
له مانه خو زه هم مجبوره وم، که نه نو دسبحان
په څېر ښه هلک صفا ته هېڅکله نه پېدا کېږي.

....صفا ....

سبحان ولاړي، دا ځل د تېر په څېر خپه نه وم
ځکه عادت شوې وم. دپلار حالت مې هم ښه نه
دی، ورځ په ورځ یې حالت خرابېږی. دوه
میاشتي کېږي چې پلار مې په بستر کې بې
حرکته پروت دی، نه څه خوري نه څه وایې
صرف ساه اخلې.

ketabton.com - The Digital Library

نیمه شپه وه ٻول ویده وه فقط زه ویښه وم، دپلار کټ ته ناسته وم چې متوجه شوم، دپلار حالت مې خراب شو لاس او پښې یې وهلې، ما ژر مور
له خوبه ویښه کړه. کله چې مې مور پلار ته وکتل، نو ویي ویل چې پلار دی نور ختم شو لورې. باور مې نه کېده.

هغه پلار چې زموږ سره به دغره په شان ولاړ وو، په یوه دقیقه کې زموږ څخه تل لپاره لاړ. دمجسمې په څېر په خپل ځای ولاړه وم، یواځې مې ژړل هغه پلار چې زما دیوې اوښکې لیدلو طاقت به یې نه درلوده، نن شپه چې مې هر څومره ورته وژړل او غږ مې ورته وکړ، هېڅ جواب راته رانه کړ "اه" خدایه! څنګه دپلار دغم ته طاقت وکړم؟ زما داغه حالت هغه کسان درک

ketabton.com - The Digital Library

کولاي شي چې پلار يې له لاسه ورکړی وي.
ګاونډيان ټول زموږ په ژړا او چغو سره خبر
شول. ټول زموږ کورته راغلل ټولو راته ويل چې:
لورې هيله کوم بس کړه! صبر ولره ستا په ژړا
کولو سره خو ستا پلار بېرته نه ژوندی کېږي،
مګر هېڅ هم زما له زړه خبر نه درلود، چې زه
څومره په خپل زړه کې بې وزله شوم، هغه صفا
چې په ژوند کې ددمور او پلار څخه پرته بل
څه نه لرل، نن شپه يې له هغو څخه هم يو د
لاسه ورکړ.

....کلثوم ....

د سردار مرګ زه داسې له مينځه يووړم چې په
يو بې ګټې انسان بدله شوم. کوښښ کوم
صبوره واوسم حداعقل دصفا لپاره، ځکه هغه

ketabton.com - The Digital Library

ماته ډیر ضرورت لري. هغه وخت چې سردار
ژوندی وو دژوند مشکلات دومره لوی نه وه، یا
هم شاید لوی وه مګر هغه به حل کول له هغه
وخته چې مې ورسره واده کړی وو، همیشه یې
کوښښ کاوه ما خوشاله کړی، هیڅکله راته بد
خبره نه وه کړې، هغه یو ډېر ښه خاوند وو زما
لپاره څومره ژر ولاړ، له مانه یوازینۍ آرمان یی
دا وو، چې د صفا واده او خوشبخته کېدل وو
چې هغه ورځ یې هم ونه لیدله. دسردار د
ښخولو وروسته مې ورونه راغلل. راته وویل
راځه له مور سره ژوند وکړه، ومې نه منل ځکه
نه غوارم دچا داوږو بار شم، د خپل لور سره یو
ځاي ژوند کوم که ښه وي یا بد ادامه ورکوم.
دسجاد کورنۍ هم ورک شول دسردار دمرګ
وروسته نور هیڅ رانه غلل خوشاله وم، چې له

ketabton.com - The Digital Library

یوه مصیبته خو خلاص شولو اوس نو یوازینۍ آرمان مې دصفا خوشبخته کېدل دي.

....سبحان ....

یوه هفته مې له راتلو څخه تیرې شوې وي، له مور سره مې خبرې کولې چې راته وویل سردار کاکا وفات شوی، ډېر خفه شوم. سردار کاکا سره مې دپلار په څېر مینه لرله، د صفا په خاطر دخاله ګلثوم لپاره ډیر غمجن وم، چې دوي به پرته له سردار کاکا څنګه ژوند تېروي؟ ډیره سخته ده خدای دی صبر ورکړي.

له صفا سره می خبری وکړې دومره یې ژړل چې زړه می ټوټې ټوټې شو، فقط مې ورته ویل: چې صبر ولره هر څه دخدای غوښتنه وي دا ورځې هم تېرېږي، إن شاء الله ښه ورځې به هم

ketabton.com - The Digital Library

راورسېږي، بې غير له دی چې صفا سره همدردي وکړم نور مې هېڅ نشواي کولاي.

....صفا ....

پلار خو له مورې لاړ. سبحان هم ډېر لرې دی رانه، د پلار مرګ وروسته مې د مور حالت هېڅ ښه نه دی، همیشه چې پوښتنه ترې وکړم، هېڅ نه وایي. مګر زه یې وینم چې د شپې خوب هم نه لري، دپلار دنشتون په درد کې په دې پوه شولم چې غم او درد څه ته وایی. خپل درد او غم مو کم نه وو چې دخلکو خبرې هم زمورې ترشاه شروع شولې. هرڅوک چې ما ووینې په غیبت او خبرو شروع وکړي، وایي: صفا خو دپلار په کور زړه شوه دهغه سجاد په خاطر هېڅوک هم دصفا سره کوژدې کولو ته پېدا نه شوه . هېڅ به

ketabton.com - The Digital Library

مې هم نه ورته ویل ځکه ویلو لپاره څه نه وه دوي رښتیا ویل. فقط مې خدای ته زاری کولې او خپل بد قسمته ښخه مې ګیله کول، نور به مې حتا زړه نه کېده دکور څخه دباندي لاړه شم.

....سبحان ....

۱۲ دولس کاله وروسته خپل وطن ته راغلم. اوس هغه ځوان هلک نه یم  یو سپین ږیري وم، یواځې مې دصفا دلیدلو انتظار کاوه، فقط مې غوښتل چې وګورم صفا څنګه شوې، آیا اوس هم دپخوا په څېر ښایسته ده که نه. همدا چې کور ته ور رسیدلم دخپلې مور خور ورونو له لیدلو حیران شولم، ټولو ډېر تغیر کړی وو، مور مې ډېره سپین سرې شوې وه، په سختې به په لاره تلله. دخاله ګلثوم او صفا په اړه مې پوښتنه

ketabton.com - The Digital Library

وکړه وېرېدلم چې داسې نه صفا واده کړی واوسي.

....شریفه ....

سبحان هېڅکله صفا هېره نه کړه له کلونو وروسته راغلی، مګر بیا هم لومړۍ پوښتنه د صفا وکړه. سبحان او صفا دومره یو په بل باندی مئین وو، چې په دنیا کې به د دوي په څېر به بل هېڅوک نه شي پیدا کېدلاي.

صفا هم دسبحان په نوم سپین سرې شوله، صفا یوه ډېره ښایسته انجلۍ وه، اوس چی د ۵۰ پنځوسو کالو شوی ده ډېرې مرکې ورته راځي. مګر دسبحان لپاره یې ټولو ته د (نه) ځواب ورکړی، ما فکر کوي که سبحان له صفا څخه لرې نو هغه به هېره کړی، اما برعکس هغې ته یې

ketabton.com - The Digital Library

مینه او علاقه نوره هم صفا ته زیاته شوې وه. ځان راته ګناهګاره ښکارېده، ځکه ما تل غوښتل سبحان له صفا څخه لرې کړم. مګر اوس پوه شولم چې دا دواړه یو د بل لپاره پېدا شوی دي، هېڅوک هم دوي یو له بل څخه نشي لرې کولای.

....صفا ....

دولس کاله وروسته سبحان راغلی. ما دهغه د مینې په خاطر څه څه ونه زغمل، خپله ځواني مې د لاسه ورکړه څېره مې خرابه شوې، وریښتان می دانه دانه سپین شوي زه بوډې شولم، مګر دا مینه هېڅکله بوډا او زړه نشوله، د مور حالت مې ورځ په ورځ خرابېږي.

دولس کاله هېڅ ښه نه وه حتا په لاره هم نشواي تللاې. ډېره کمزرې شوې وه، ډاکترانو

ketabton.com - The Digital Library

ویل چې ګوردې ( پښتورګي) له کاره لویدلي، مرګ او ژوند د خدای په لاس دی مګر فکر نه کوو چې له څو میاشتو یا یو کال نه زیاته ژوندې پاته شې، ډېره وېرېدلم چې مور مې هم د پلار په څېر له لاسه ورنه کړم، زه سپین سرې شوې یم، مګر بیا هم چې کله د مور د مرګ په هکله فکر کوم نو راته سخته ده.

....سبحان ....

یوه هفته مې له راتلو تېره شوله. دا ځل مخکې له دی چې زه څه ووایم مور مې خپله وویل چې غوارم ستا د مرکې لپاره صفا دوي کره ورشم، إن شاء الله دا ځل به یې د هغې مور حتماً منئ. ما هم دحاجت لمونځ کړی او له خدایه مې کمک غوښتي. سبا ورځ هغوي زما په رشتې پسې لاړل، زه هم لاړم ګلثوم خاله دېخوا په څېر نه

ketabton.com - The Digital Library

وه ډیر زیات تغیر کړی وو، حتا نشواي کولاي د ځای څخه ولاړه شي.

صفا ډیر زیات تغیر کړي وو، مګر بیا هم دځواني په څېر ښایسته وه. څو دقیقې صفا په کور کې وم بیا لاړم د ملګرو لیدلو ته، شپې چې کورته راغلم له مور نه می پوښتنه وکړه ویې ویل.

شریفه: زویه سترګې دې روښانه ښه خبر درته لرم ګلثوم ( صفا مور) داځل هېڅ مخالفت ونه کړي فقط غواړي، یو ځل دسجاد له کورنۍ څخه پوښتنه وکړي، ترڅو سبا ورځ کوم جنجال جوړ نه کړئ.

....سبحان ....

له خوشالې نه په ژړا شولم خپل ربَّ ته مې سجده  وکړه، هر څومره شکر ګزارې چې وکړم

ketabton.com - The Digital Library

کمه ده. دشپې مې له خوشحالۍ نه راته خوب نه راتله، سبا ورځ دصفا تره (کاکا) سره مې خبرې وکړلې، له هغه ځخه مې وغوښتل ترڅو د سجاد مشر ورور ځخه پوښتنه وکړئ چې څه وايي؟

خپله لاړم دخاله ګلثوم سره مې خبرې وکړلې، هغې وويل چې په دی عمر کې به زه له خدايه څه وغواړم؟ فقط د خپلې لور خوشحالۍ او خوشبختۍ  راته مهمه ده. پوهېږم چې صفا به له تاسره نيک بخته کېږي. دخاله لاسونه مې ښکل کړه، مننه مې ترې وکړه د صفا سترګې له خوشحالۍ بريښېدلې، هغه هم زما په څېر بې حده خوشحاله وه.
د صفا له کوره چې ووتم، د کاکا جان ځنګ ته ورغلم پوښتنه می ترې وکړه، چې د سجاد د

ketabton.com - The Digital Library

مشر ورور سره یی خبرې وکړي؟ هغه ورته ویلي چې مورې هېڅ مشکل نه لرو هغه پخوانۍ دښمنۍ وه، او دې خبرې ته مور او پلار لپاره ډېر اهمیت ورکاوه. اوس دسجاد اولادونه لوی شوي دي زوي او لور واده کړي، مورې هېڅ مشکل نه لرو د دوی له واده سره.

دا ښه خبر مې ټولو ته وویلي کورنۍ مې خوشاله شوله مور مې دوه درې ځلې د صفا کره لاړه او شیرینی ورکړه د شیرینۍ داخیستلو وروسته مو یوه کوچنۍ میلمستیا جوړه کړه.

دلومړۍ ځل لپاره مې دصفا لاس ونیوه، دا هغه ورځ وه چې په انتظار یې زه بوډا شولم، نن مې هم باور نه کېده چې صفا نور د تل لپاره زما شوې، ټوله ورځ مې صفا ته کتل زړه مې نه کېده سترګې ترې واړوم.

ketabton.com - The Digital Library

هغه کارونه چې مې کول دخلکو له نظره زما دعمر سره نه راتله مګر ما دی میني ته درسېدلو په خاطر څه کارونه ونه کړه، اوس هم راته دخلکو خبرو او نظرونو هیڅ اهمیت نه درلود.

....صفا ....

له سبحان سره دکوژدې وروسته بې غیر د مور له ناروغې نه مې هېڅ مشکل نه درلوده، ډېره خوشحاله وم سبحان له پخوا څخه هم زیات راباندې مئین وو، هر څه چې به مې ترې وغوښتل زما لپاره به یې کول.
غوښتل مو ژر واده وکړو منتظره وو ترڅو دمور حالت مې ښه شي.

خو برعکس ورځ په ورځ بدتر کېده پنځه میاشتې تیرې شوې. د واده په تیارې او کارونو

ketabton.com - The Digital Library

اخته وو، چې مور مې وفات شوله یو ځل بیا زما ژوند خراب شو. څومره لنډه وه زما خوشحالی، اوس پوه شوم چې یواځیتوب یعنې څه.

هغه وخت چې د چا مور مړه شي، نو داسي شي لکه ماشوم چې په هر ځای کی مور لټوي او هېڅوک د هغې تشه درته نشي ډکولاي.

ډیره سخته ده دمور دمرګ وروسته سرګردانه ګرځېدم، څو میاشتي به خاله سره اوسېدم څو میاشتي به له ماما، خلاصه چې ژوند مې په بدترین شکل ادامه درلوده.

یو کال تېر شو مهنت کونکو مې پریښودل. چې داغه کال او ورځو کي واده وکړو د واده آدماګۍ ونیول شوې. هر ځل چې به مو وغوښتل د واده ورځ وټاکو نو یو مشکل به راتله نه پوهېږم ولې؟!

ketabton.com - The Digital Library

....سبحان ....

کله چې خاله کلثوم وفات شوله صفا ډېر بد حالت درلود سترې شوې وه.
غوښتل مې چې ژر واده وکړم خو صفا نه منل ویل یې چې د مور د مرګ مې یو کال تېر شي، بیا واده کوو اوس یو کال تېر شو، د دواده آمادګۍ مو نیولې لخیره نن به دواده نیټه معلومه کړو، د څو ورځو جنجال او آمادګۍ وروسته مو بلاخره دواده نیټه معلومه کړه.

سبا به لخیره زموږ واده وي. زما د ژوند یوه ترټولو ښایسته ورځ، د واده ټوله امادګۍ مې خپله نیولې وه. تر یوې میاشتې پورې خو دصفا سودا نه خلاصیده، ماشاءالله دا ښځې خو د کالیو اخېستلو څخه هېڅ نه سترې کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

صفا ....

نن زما واده دی سهار وختي مې د خاله لور سره لاړم ارایشګاه ته، د غرمې دوه بجې وي، چې کورته راغلو د مور ټوله کورنۍ او خپلوان له لرې ځایونو څخه راغلي وه.
فقط مې مور نه وه، ډېره هیله مې درلوده ده چې دا ورځ مې مور راسره اوسي. د مور تشه مې هره لحظه احساس کول، بې چاره خاله مې ډېر ښه کول زما په حق کې، لکه د یوې مور خو بیا هم نشواي کولاي زما د مور ځای ونیسي.

خپل کالي مې بدل کړه، کله چې مې سپین لباس واغوسته زړه مې ډک شو، او مې ژړل  خو چې هرڅومره مې وژړل بیا مې هم زړه نه خالي کېده.

ketabton.com - The Digital Library

زمورږ واده ښه په خوشالی تېر شو خو یوازینۍ
څه چې ډېره یې دردولم دمور نشتون مې وو.

....سبحان ....

له واده څخه مو یوه میاشت تېره شوله، د خدای
شکر زمورږ ژوند په خوښۍ سره روان دی.
صفا هم ډېره خوشحاله ده شاید ماشوم
(اولاد)ونلرو، او دماشوم آرمان مو په زړه پاته
شي.
مګر دا چې د خپل ماشومتوب مینې ته ورسېدم
زر ځله د خدای شکر. هره ورځ دشکرانې لمونځ
ادا کوم، او د خپل خدای څخه شکر کوم چې
دومره خوشحالي زما لپاره پېدا کړې.
شکر ګزاره یې یم، ریښتنی مینه ده انتظار
ارزښت لری، شرط دا دی چې دا مینه دوه طرفه
واوسي. نه وایم چې ژوند آسانه دی یا هم مینې

ketabton.com - The Digital Library

ته رسېدل یو ساده کار دی، ژوند ډېرې ژورې او پوړته لری.
په هره لاره کې یې له خوشحالۍ څخه زیات غم او درد لری، خو فقط کاپی ده چې موږ همیشه کوښښ وکړو او امید ولرو، نا اُمیده شیطان دی.
خداي هېڅکله خپل بندګان په سختې او مشکلاتو کې یواځي نه پرېږدي.

ما به په لومړیو کې فکر کاوه د دومره سختې، او مشکلاتو باوجود به وکولاي شم صفا ته ورسېږم؟ مګر بیا مې هم هېڅکله خپل اُمید د لاسه ورنکړ.

که تاسو هم مئین یاستي، او په خپل ټول زړه او وجود سره غواړي چې مینې ته مو ورسېږي، نو کوښښ وکړئ اُمید ولرئ إن شاء اللّٰه چې ستا دوعاګانې به عرش ته خدای ته ورسېږي.

ketabton.com - The Digital Library

که له ما پوښتنه وشي چې مینه څه ده ؟
نو وایم چې مینه ستا هغه اواز دی،
چې ستا د زړه سل دردونو ته آرام ورکوي.

#دخوږ انتظار ناول پای♥
#لیکواله_ سحر سادات♥
#ژباړونکي_دسکوت هېنداري ټیم♥

ژباړونکې :
(دسکوت هېنداره)
(صافیه)
(ستاره اندړ)
(صفا واصفی)

ketabton.com - The Digital Library

د سکوت هینداره

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*